# د ولسي جرګې له وروستي نوملړ څخه لس تنه نوماندان لرې شول




د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د ولسي جرګې لس  تنه نوماندان په دې دلیل چې په خپل وخت یې له دولتي دندو استعفا نه وه کړې له وروستي نوملړ څخه لرې کړل .

د ټاکنیزو شکایتونو د کمیسیون غړي او ویاند احمد ضیا رفعت د یکشنبې په ورځ د زمري په ۳۱ د یوې مطبوعاتي ناستې پر مهال وویل چې دغه کمیسیون د ټاکنو قانون د دیارلسمې مادې د پینځمې فقرې د لومړي بند پر بنسټ د ولسي جرګې د وروستي نوملړ تر اعلان وروسته د ولسي جرګې د یو شمیر نوماندانو دوسیې چې په خپل وخت یې له دولتي دندو استعفا نه وه کړې وڅیړلې چې په پایله کې ښکاره شوه چې یو شمیر نوماندانو د نوم لیکلو پر مهال استعفا نه وه کړې . نو په همدې موخه د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون نهه تنه نوماندان په خپل وخت له دولتي دندو د استعفا د نه کولو په موخه د نوماندۍ وړ نه بولي .

رفعت لرې شوی نوماندان لاندې کسان په ګوته کړل : حاجی عبدالعزیز د هلمند ولایت د ټاکنیزې حوزې ، محمدسلیم د هلمند ولایت د ټاکنیزې حوزې ، نوراحمد د بغلان ولایت د ټاکنیزې حوزې ، نادرنهرین وال د بغلان ولایت د ټاکنیزې حوزې ، داکتر ماهر محمدي د پروان ولایت د ټاکنیزې حوزې ، محمدهاشم نیازی سنګر د کابل ولایت د ټاکنیزې حوزې ، حاجي صداقت زاهد د کابل ولایت د ټاکنیزې حوزې ، سیدعنایت الله هوفیاني د کابل ولایت د ټاکنیزې حوزې او عبدالرحمن د تخار ولایت د ټاکنیزې حوزې

نوموړي زیاته کړه تردې وړاندې هم پینځه لس تنه نوماندان چې په خپل وخت یې له دولتي دندو استعفا نه وه کړې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون د پر یکړې پر بنسټ له وروستي نوملړ څخه لرې شوي وو . د ولسي جرګې د یو شمیر نورو نوماندانو دوسیې چې په خپل وخت یې له دولتي دندو استعفا ده کړې تر څیړنو لاندې دي اوپه راتلونکو ورځو کې به یې پایلې خلکو ته اعلان شي .

د یادولو وړ ده چې په دغه ناسته کې رفعت د فیفا هغه ادعا چې د نوموړي بنسټ ۱۶۰ شکایتونه د ډاکنیزو شکایتونو د کمیسیون لخوا نه دي څیړل شوي رد کړ او ویې ویل ټولو هغه شکایتونو چې سند او مدرک ولري د ډاکنیزو شکایتونو د کمیسیون څیړل کیږي . نوموړي وویل چې د ډاکنیزو شکایتونو کمیسیون نه شي کولای د شایعاتو پربنسټ پریکړه وکړي.

فیفا د یکشنبې په ورځ د زمري په ۳۰ ادعا کړې وه چې د نوموړي بنسټ د ډاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته ۱۶۰ شکایتونه استولي خو تراوسه ورته رسیدنه نه ده شوې .

نوموړي وویل : " که چیرې فیفا اویا کوم بل بنسټ که شواهد او مدارک ولري د ډاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته دې راواستوي چې په اړوند یې مونږ څیړنه وکړو او خپله پر یکړه اعلان کړو."

د یادونې وړده ، چې د تراوسه د ډاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته تر زرو ډېر شکایتونه رارسید لي دي .